مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۲/۰۵/۲۳

«کورونا» نا روغي، د لنډیو په غېږ کې

څلورپنځوسمه برخه

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

یوسلویوڅلوېښتمه برخه

مینه دې پټه ساته زړه کې
دلته رانشي کرونا دې ډوبوینه

کورونا نه ده سمدم اور دی
میین زړکی مې په لمبو کې سوځوینه

چې کورونا شوه ته هم لاړې
زه دې دردونو ته یوازې پرېښودمه

د کورونایي لنډیو د دې برخې له پاره بیا هم څو نوې داسې لنډۍ چې د کورونا او د دې ناروغۍ د ستونزو په باب خبرې او د زړه خوالې په کې راغلې دي:

کورونا زړه راته چولی
پر زړه مې دغسې پولۍ ولاړې دینه

په کورونا باندې اخته شوم
ناروغ لالی دې په دا نن سبا کې مرینه

د کورونا په غمو بار یم
بېځواکه څنګه د وعدې ځای ته درشمه

له کورونا نه دې ځان خلاص کړ
زه بد قسمته هره ورځ ځان پر لړمه

په تور تـوپک ویشتلی راسې
د کورونا احـوال دې مـه راځـه مینـه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په کورونا مې نه لورېږې
دومره خفه شې لکه زه چې څومره یمه

مینه دې پټه ساته زړه کې
دلته رانشې کرونا دې ډوبوینه

کورونا داسې لیونی کړم
کتاب مې واخیست په درسو نه پوهېدمه

د خدای دربار کې دوعا وکړه
چې کورونا باندې اخته نه شوم مینه

کورونا تست پایله منفي وه
پرته له ډاره به د زړه خواله کوونه

چې کورونا کړمه رایاده
د مینې بڼ باندې مې راشي سیلاونه

بیا مازدیګر وخت د دیدن شو
د کورونا په وجه بند دي دیدنونه

کورونا نه ده سمدم اور دی
مین زړکی مې په لمبو کې سوځوینه

که کورونا شوله برلاسې
هر څه پاتېږي ارمانجن به ګور ته ځمه

که کورونا دریاب کې ډوب شې
بیا د خلاصون له پاره هېڅوک نه درځینه

چې کورونا شوه ته هم لاړې
زه دې دردونو ته یوازې پرېښودمه

ما کورونا نه پېژندله
د تا دیدن ته چې درتلم پرې واوښتمه

تا خپله ویلې کورونا یم
چې درنغلم اوس ګیلې کوې مینه

کورونا دومره کړم بېځواکه
نور څه کړای نه شمه بس نوم دې یادومه

کورونا داسې درس راکړی
له هر مجلس بندار به واخلمه لاسونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ